انجینیر فضل هادي فضلیار ۱۲فبروری ۲۰۱۴

عبدالله عبدالله د زلمي رسول په ګټه تېرېږي!

سره له دې چې د ۱۳۹۳ د وري د ۱۶مې نېټې ټولټاکنو ته، د ټاکنیزو کمپاینونو څو ورځې کیږي؛ خو له همدې پیله د ولسمشرۍ د نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله او د هغه د ملګرو ترمینځ ډېره وارخطایي او ناهیلي لیدل کیږي.

د هغوی دا وارخطایي بې ځایه هم نه ده؛ د دوی د پخوانۍ شمال ټلوالې ډېرې راپې امیر اسمعیل خان له ځان سره استاد سیاف ته یوړي، ډېرې نورې یې د جنرال دوستم لخوا اشرف غني احمدزي ته وروبخښل شوې، او حتی د ډاکټر عبدالله د ځالې (پنجشېر) ډېرې رایې احمدضیا مسعود د ډاکټر زلمي رسول له سره ځار کړې. ډېر شمېر نورې رایې یې اخوا دېخوا د یو او بل خوراک شوې.

له بلې خوا د ولسمشرۍ د کاندیدانو ترمینځ په وروستیو دوو ټلوېزیوني مناظرو کې د ډاکټر عبدالله ضعیف موقف او د طالبانو او ډیورنډ لاین په شان مسایلو په اړه د هغه د پخوا خلاف اوښتی دریځ (چې په حقیقت کې د پښتنو د رایو اخیستو لپاره سیاسي چال دی) د هغه ډېر پخواني پلویان ناراضه او دې ته اړ کړي چې د هغه په اړه بیا غور وکړي.

اوس نو د ډاکټر عبدالله عبدالله دا وېره پر ځای ده چې نور افغانستان خو لا پرېږده؛ ښایي د پنجشېر او بدخشان خلک هم هغه ته دومره رایې ورنکړي، د څومره چې یې تمه لرله.

دا حالت د ډاکټر عبدالله عبدالله لپاره په راتلونکو ټاکنو کې تر تېرو هغو د سختې ناکامۍ سره نښه ده!

ښه نو، د ډاکټر عبدالله د ناکامۍ په صورت کې برې حتمي د ډاکټر اشرف غني احمدزي په برخه دی. او دا، هغه څه دي چې ډاکټر عبدالله یې د ځان او خپلې ډلګۍ د پو پناه کېدو په معنا ګڼي.

دوی چې د یوې هوښیارې او فعالې ډلګۍ په توګه؛ په هر حال، هر وخت او د هېواد هر ځای کې خپل شتون او خپلې ګټې ساتل غواړي؛ هم حکومت هم اپوزیسیون، هم جنګ هم سولې، هم قانون او هم ناقانونۍ کې خپل رول فعال ساتل اړین ګڼي؛ نو دا به ورته هیڅ د منلو او زغملو وړ نه وي چې د ډاکټر اشرف غني احمدزي په راتګ سره دې د دوی هر څه پو پنا شي.

ډاکټر عبدالله چې به پخوا د خپل نږدې ملګري یونس قانوني دا لارښوونه اورېده چې، په افغانستان کې لا دېرش کاله نور هم د غیر پښتون واک ته رسېدل ناشونی کار دی، نو په ناراحته انداز به یې ورغبرګه کړه: اګر رئیس جمهور نه میشیم، معاون ریس جمهور خو باید همیشه باشیم!

اوس که ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی بریالی کیږي نو د ډاکټر عبدالله ډله مرستیال ولسمشري هم له لاسه ورکوي. له بلې خوا ډاکټر صیب اشرف غني ورته لکه د (وادي ګرګها) سرېال د اتل (فولاد علمدار) په شان داسې څوک ښکاري چې په معاملو او مصلحتونو هم ډېر باور نه لري.

ځکه خو د اشرف غني بریالیتوب دوی د ځان لپاره د پو پناه کېدا په معنا ګڼي او ددې (ستر خطر) د مخنیوي لپاره باید حتماً بله لاره چاره وسنجوي!

ډاکټر عبدالله عبدالله او د هغه ډلګۍ د (ستر خطر) د مخنیوي لپاره، ښایي دا کوچنی خطر ومني چې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د زلمي رسول په ګټه تېر شي.

ولې زلمي رسول ته تېرېدا؟

ډاکټر زلمی رسول هغه څوک دی چې په ارګ کې یې شتون تر ډاکټر عبدالله عبدالله ډېر د پښتنو په زیان او د شمال ټلوالی په ګټه دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډاکټر عبدالله د بریالیتوب په صورت کې به بیا هم په ولسمشرۍ مانۍ کې څه ناڅه پښتو پاتې وي، د عبدالله لومړی مرستیال انجینیر خان محمد که د احمدشاه مسعود د ورور د وژنې په تور ونه وژل شي، نو هغه به له خپلو ملګرو سره کله نا کله په ارګ کې پښتو وایي؛ خو که د ډاکټر زلمي رسول ټیم بریالی شي نو ارګ به بلکل له پښتو خالي شي.

ډېری افغانان به ددې خبرې شاهدان یې چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو په لومړنۍ ټلویزوني مناظره کې، چې د طلوع ټلویزون له لوري څو شپې وړاندې خپره شوه، یواځینی نوماند ډاکټر زلمی رسول و چې حتی یوه کلیمه پښتو یې ونه ویله.

سره له دی چې د ډاکټر زلمي رسول یو انتخاباتي شعار برابري یا مساوات دی خو د خپل شعار خلاف یې په یاده مناظره او بل هر ځای کې د ژبو تر مینځ هیڅ برابري او مساوات نه دی مراعات کړی او ددې بې عدالتۍ لامل دادی چې هغه د هېواد په ملي او رسمي ژبه (پښتو) نه پوهېږي.

ډاکټر زلمی رسول به د لاندینیو ټکو له امله تر ډاکټر عبدالله ډېر د شمال ټلوالې په ګټه وي.

1. ارګ به له پښتو په بشپړه توګه خالي شي؛
2. یو ځل بیا به د ظاهر شاه او هغه ته ورته تش په نامه پښتنو پاچاهانو په شان، یو تش په نامه پښتون سړي ته ولسمشري منسوبه شي خو په عمل کې به هر څه د هېواد د اکثریت (پښتون قام) په لوی زیان وي. (چې دا کار لوی بغاوتونه راپارولی شي)؛
3. د حزب اسلامي یوه ډېره وړه برخه به هم ارګ ته هیڅ لاره پیدا نکړای شي؛
4. واک به دداسې ډلګۍ په لاس کې شي چې هم به په هېواد کې د شتو واکمنو جنګسالارانو او هم د بهرنیو نیواکګرو ملاتړ ورسره وي. (زیان به د ولس وي)

او پورتنۍ ټولې د ډاکټر عبدالله او د هغه د ټیم اساسي موخې او غوښتنې دي.

د ډاکټر عبدالله د تېرېدنې په صورت کې به، د حمل د ۱۶ نېټې په ټولټاکنو کې نور نوماندان هم وي، خو اصلي ټاکنیزه جګړه به د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر زلمی رسول ترمینځ وي.

په دې صورت کې به د ډېرو افغانانو ترڅنګ، ولسمشر کرزی او ډېری نړیوال هم د لاندینیو او یو شمېر نورو لاملونو له مخې د ډاکټر زلمی رسول ملاتړ وکړي او د هغه د بریالیتوب چانس به ډېر شي.

1. ډېری نړیوال په تېره بیا نیواکګر هېوادونه د داسې یو چا غوښتونکي دي چې له فکر او پوهې بې برخې او په پټو سترګو د هغوی د هرې غوښتنې منونکی وي؛
2. ولسمشر کرزی هم تر ځان وروسته د داسې چا غوښتونکی دی چې خپلې ټولې نیمګړتیاوې د هغه د ضعیف ټیم په واسطه پټې او د افغانانو له یاده وباسي تر څو د افغانستان کاڼي او بوټي هم د ولسمشر کرزي ارمان وکړي؛
3. د ښځو د حقوقو په نامه ډېری هېوادنۍ او نړیوالې ډلې به له دې امله ورته خوشاله وي چې د زلمي رسول دوهمه مرستیاله ښځه ده؛

ډېری ګاونډي هېوادونه هم تر ډېره د زلمي رسول بریالیتوب ته خوښ دي ځکه د زلمي رسول ټیم به ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني او په دوهم ګام کې به افغانستان د فېډرالېزم په پلمه په اتو برخو وویشي. (دا څرګندونې د ډاکټر زلمي رسول لومړي مرستیال احمد ضیا مسعود له طلوع سره په ځانګړې مرکه کې کړي).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ